ليکونکی: اندریو کوریکوب (Andrew Korybko) .

منبع اودخپریدو نیټه : گلوبال ریسرچ «05-09-2019».

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م « مل» .

---

# د متحده ایالاتو – طا لبا نو سره د سولي معا ملی د سیمه ایز ځواک انډول به له سره تعریف کړي

**A US - Taliban peace deal would redefine the regional balance of power**



*د سولی امتحا نی یا تجربی تړون چي متحده ایالات د طا لبا نو سره خبري کوي د سیمه ایز ځولک انډول به بیا له سره نوی تعریف کړي که چیری داتړون رسمی اعلان شي نو په دی توګه به په یوروآسیا کی دلوی ځواک دادغام ا ساسی بد لون لړي ته دوام ورکړي*

*په پراخه کچه راپور ورکړل شوی چی دسولي امتحا نی تړون چي د متحده ایالاتو له طا لبا نو سره په خبرو بخت دي وبه لیدل شي چی له افغانستان څخه (پنځه زره) امریکایی سرتیری به په لمړی ځل کي وویستل شی ؟ اودهغه سره موازی دامریکی (پنځه) نظا می ادی به هم وتړل شي اویا که نه؟ اوبیا دهغه په بدل کي به دغه مسلح ګروپ یعنی طا لبان(کوم چي په رسمی بڼه دروسی اونورو هیوادونو له خوا د ترهګرو په توګه پیژند ل شوی ) ژمنه کړي چی دوي چاته به اجازه ورنکړی چي ددوی له خا وری څخه نړیوال ترهګر لکه داعش وکا رول شي . که چیری دا تړون په رسمی ډول خپور شی نو دا به د سیمه ایز ځواک توازن نوی کړي اوپه یوروآسیا کي په دوامدار شکل سره دلوی ځواک لړی ته به ا سا سی بدلون ورکړي . اما ددی احتما لي اقدام د پا یلي د تحلیلا تو او د تجزیه او څیړنی څخه د مخه دا با ید له هرڅه نه لمړی په ګوته شي چي دا پخپله د متحده ایالا تو حکومت کی ددی تړون سره په ظاهره کی دپام وړ مخا لفت شتون لري . دټیم دمجلی دیو راپور له مخي* ***پمپیو*** *دمتحده ایالاتو د با ند نیو چارو وزیر د ځنو لړلو اند یښنو له امله ددی سند دلاس لیک کولو څخه غواړی ډډه وکړی کوم چی د هغه په اند دوی به طا لبا نو ته په لوی لاس د دی توا فقننا مي په لاس لیک کولو سره مشروعیت ورکړي اوهغه هم په ا فغا نستا ن کي د متحده ایالاتو له طرفه د یوسیا سی ځواک په عنوان سره له هغه چی نوموړی سازما ن (طالبان) د کا بل حکومت ته دورته تسلیمید و څخه ډډه کړی او قسم یی خوړلی دی چی دغه حکومت به نسکوره کړي .*

*دا څرګندده نه ده چي آیا* ***د پمپیو*** *اندیښنی یا دریځ صادق او ریښتیا دی یا که دی د (2024) ټاکنو کي داحتما لی کا ند ید کید و دمخه پخپله خوښه سیا سیی دریځ لري. که چیری دمتحد ایالاتو بشپړ وتنه چی احتمال به یی دافغانستان لپاره بی ثباتی وی لکه هغسی چي «بارک اوباما» دغه ورته اقدام په عراق کي ترسره کړ ، نوهغه غواړي چی مخکی له مخکی له هغه څخه واټن ونیسی ، بل تفصیل کوم چی دیادونی وړ دي هغه داچي دامریکی ددفاع پخواني وزیر متس (Mattis) په دی وروستیو کي پخپلو یادونو کي څرګندده کړي اوهغه داچي پاکستان په نړی کي یو ( خورا خطرناک هیواد) ګڼلی ،حا ل داچي پاکستان دیو نړیوال محور په توګه دستونزی دحل اودپرمختګ لپا ره لاره هواره کړي چی تر دی دمه په افغانستان کي دسولي غوښتونکي دي کوم چی دپاکستان اولسمشر ته دترامپ له خوا په دی هکله سړکال دوبی کی تود هرکلی ترسره شو .*

*د متحده ایالاتود(ژوریا دېټ حکومت )له خوا ویش یا برخي په دی هیواد کي لا د مخه په مینځ د د بیلما تیکو او نظا می څا نګوکی رامینځته شوی یعنی چی دغه د پردی ترشا حکومت څا نګی په د بیلما تیک او نظا می برخو کی سره ویشلی دي . نو اوس دا سی را بریښی چی دوی یعنی دغه پټ حکومت د اولسمشر* ***ترامپ*** *د طا لبا نو سره د سولی تړون په مخا لفت کي قرار لري. اما د* ***ترامپ***

سرغړونه یا سرکشی له هرهغه څه څخه ددی کار دترسره کولو لپاره دهغه په روش یا ستا یل کي خورا زړه راښکونکي شوی دي اوفکرکوی چي هغه به د دی کا رسره یوځه شی سموی که چیری هغه د خپل شا پسی یو زورواک فشا ر ولری یا په بل عبارت که چیری ترامپ ترخپل شا پوره ځواک ولری نوهغه به خپل هد ف ته درسید و لپا ره دهیچا پروا نه سا تي . نوکه چیری دونا لد ترامپ دغه تړون لاس لیک کړی اوتمه کیږي چي دسیمه ایزو قدرتونو لکه د روسیې ، چین ، پا کستا ن اودایران دهیوادونو تایید او ملاتړ دځا ن سره ترلاسه کړي (تول هغه څه چي طا لبا ن انتظا رلری چي د دی توافقننا می د لاس لیک کولو په وخت کی د سیمنه ایزو ځواکونو شتون د نړیوال شاهد په عنوان ضرور دی ) نو هغه وخت ترامپ کولای شی چی دخپل سرتیرو وطن ته دبیرته ستنیدو په پلمه پخپل نظا می لګښتونو کی هم یو څه صرفه جویی راوړي اوهم د سولي په ګټه خپل پریکړی دیو اړین اقدام په توګه وټاکي نو په همدی هیله هغه زیا ربا سي ترڅو چي خپل هیواد له دغه دروند نظا می لګښتونو څخه خلاص کړی اوهغه داچي امریکی کوم چي ددی جګړی بایلونکی دی خپل ځان تری بچ کړي یا داچي ترامپ مرسته وکړي چي خپل هیواد له دغه حیرانونکی بیخایه فوق العاده مصارفاتو څخه خلاص کړی . هغه یعنی ترامپ همدارنګه دخپل کړنی یا دخپل دوسیې( د ثبت اودضبط په حال کي ) وایی چي نور دېرنژدی شریکان لکه هندوستان ،پاکستان ، روسیه ، افغانستان ( منظور له همدغه ننی حکومت ) ،ایران ،عراق اوترکیه دي چي با ید وروسته دامریکی دپوره رابیداری په نظرکی نیولو سره په مداخله لاس پوری کړي کوم چي دونا لد ترامپ ته داډ ترلاسه شی چي داعش له موجوده حالاتو څخه ګټه تر لاسه نکړي . اود بلی خوا څخه چی وکولای شی په دی نا تما مه اونا معلومه په عملی بنې سره دامریکی د ما تی خوړلو څخه د نه منلو په نظرکی نیولو سره دما کیا ولی له یوډول ما نور څخه په ګټه اخیستو سره خپل سیالانو ته وښیی چی ځرنګه له دغه دلد لزار یا با تلاق څخه ځا ن با سي .

اصلی ا هدا ف هرڅه چي وی ، وُدی وي اما د طا لبا نو سره دامریکی خبری د سولی دتوافق په اړه کیدای شی چي په اسا سی بڼی سره د سیمه ایز ځواکونو توازن یا تعا دل ته تغیر ورکړي . وسله وال ډلی شاید چی درهبر یا دخپل مشر په پرتله کوم چي هغه په رسمی بڼی سره په واک ورسیږي کابل ونیسی یا تر خپل ولکي لاندی راولي ، نو په دی ډول به په افغانستا ن کي دهند داستثمار یا دبهره وری اغیزمنتوب دیو توپد ړه ( تخته خیز) په عنوان به د خپل ترکیبی جنګ د ترسره کید و لپا ره د چین پاکستان داقتصادی دهلیز (CPDC) له وجهی څخه به کم تاثیره شي اودهمدی ا صل له مخی پا کستا ن ته دا توان ورکوی چی دخپل ختیځ پولو دفاع یا ساتنی لپاره خپل نظامی ستراتیژیک ته زیات تمرکز ورکړي . په هرصورت دهند نفوذ ممکن په ا فغا نستا ن کي د طا لبا نو په قدرت

رسيد و سره بياهم به په بشپړ ډول له مينځه لاړ نشی ځکه چي روسيه په منظم توګه سره دی خوا اوهغه خوا سيا سيی حرکا ت اوما نوری او ځو ځلی د طا لبا نو د سا زما ن کوربه توب په مسکو کي ترسره کړی نو دهمدی اصل په نظر کی نيولو سره پر طالبا نو باندی هم څه نا څه کنترول لری لکه هغسی چی دروسيی دباندنيو چارو وزير **سرګی لاوروف** په نوی دهلی کي دخپل نوی انډيوالانو په اړه خپل ګډ ملګرتيا او همغږی اعلان کړ نو په دی ترتيب سره ممکن دی هغوی وتوانيږی چي خپل ځواکونوسره يوځای کړي اوهڅه وکړي چي خپل ملګرو ته دانعا مو په ورکولو سره د حمل ونقل د ختيځ دهليز له ځا نګي څخه د شما ل جنوب له ترانسپورتي معبر څخه د (CPEC) له دوامدار اقتصادی پرمختګ لاره دهند د نفوذ د يوی برخي د ساتلو لپا ره په هيواد کی ودروی .




**شما لی – سويلی ترانسپورتي دهليز**

هند په روانه اونی کي د متحده ایالاتو د د ښمنا نو پر وړاندي د مبا رزی قا نون ( Countring America's Adversaries Act(CAATSA) د نه مراعا ت او له هغه څخه په پوره بی پروایی اوسرغړونه روسيی سره د (S-400) توغند يو پیرود معاملی پر اسا س دګډ پوځی تجهیزاتو موافقه وکړ اوهغه ګواښونه کوم چي په ولادی واستوک کي چینا يی مارتین دهلیز کی رامینځته کیږی جدی امنیت به ولری – د چین په اړه اړینی پا یلی کوم چي که په راتلونکی کی دیو لوژیستکي تړون سره مل وی ، چي د هند سمند ری ځواک په مرتب بڼی سره په دغه تجا ری مسیر کی دګزمی وهلو په حا ل کی اووسی کوم چي د چین د جنوبی سمند ر له لاری دچین تر ختیځ سواحلو پوری تیریږی . حا ل داچي روسیه اوهند په دی با ور دي چی د هغوی دوه اړخیزه اړیکی د کومی دریمی ډ لی پر وړاندی هد ف نه دی ممکن دا قضیه وی چی ددوی دلوبی بدلونونه ددی باور پر بنسټ وړاندی وینه شوی وی چی دا دچینا يی - پاکستا نی وړاند وینی توضیحی احتما لی (توازن) ته اړتیا لری – په ا فغا نستا ن کي دمتحده ایالاتو دقوتونو وروستی وتلو څخه وروسته نفوذ چی په دی توګه به د پاکستا ن – چین اقتصا دی دهلیز (CPEC) خوندی کړی اوپه دی ډول هند د کشمکش جګړو په لور دهغه دزیا تیدونکی چلند له امله دیو جا ده او کمربند پروژه منلو څخه په انکا ر کولو سره په یو ستراتیژیک زیا ن کی ځای پرځای کوي .

لکه همغسی چی ویل کیږی هرکړنه پخپل مقا بل کی ورته کړنه لری یا په بل عبا رت هرعمل پخپل مقا بل کی عکس العمل لري نو دهمدی اصل پربنیاد دهند سره دروسیی له تحریکه ډک (توازن) دچین اود پاکستان په وړاندي هیڅ تفاوت نه لري یا په بل عبارت دچین اود پاکستا ن په وړاندي دهند سره دروسیی (فعال انډ ول) توپیر نه لری ، احتمال لری چی د چین غبرګون د پا کستا ن - چین ا قتصادی دهلیز (CPEC) سره خپلي ژمنی دوه چنده کړي نو پاکستان به هم په افغانستان کي دهند د متوازن (انډول) لپا ره د خپل ملګری لپاره به دروازی پرانیزي . سربیره پر دي متحده ایالات ښایی په همغه کچه پاکستان سره نژدی همکا ری وکړي ځکه چي دروسیی – هندوستان دمتحده ایالاتو بیلاس (توازن) غوښتنی وروسته له هغه چي نوی دهلي دواشنګتن (CAATSA) بندیزونه وغندل چي کیدای شی امریکا اوچین په ورته صفحه کي ځای پر ځای کړي نونړیوال محوری دولت ملاتړ ته اړتیا لری نو دنړی زبر ځواکونه ممکن ددی جیوستراتیژیک اړتیا په اړه سره دموافقی تړون وکړي که څه هم دوی په تجارتی جګړه کی پاتی شی یا پخپلو کی اختلافات ولری مګر که چیری دهغوی اقتصادی اختلافا ت بالاخره له مینځه لا ړشی بیا هم نشی کیدای چی د دی مسلی څخه لاس پرسر شي ترهغه ځا يه پوري چی که شا يد سره همغږی هم اووسی دهغو هڅی په دی اړه په همدی ډول دی نو روښا نه دي چی د طا لبا نو

*اودامریکي سره د سولی توافق د منطقی دقدرت په توازن کی به پوره بدلون راشی اویا به له سره تعریف شی -*

-----------------------------------------

***په درنا وي (08-09-2019)***